د افغانستان اسلامي امارت

د لوړو زده کړو وزارت

لوګر پوهنتون

علمی او محصلانو چارو معاونیت

محصلانو د خدمتونو او همغږۍ عمومي مدیریت

# د محصلینو د حقوقو، استازیتوب او ګډون تګلاره

ترتیب کوونکی: احسان الله امیری.

محصلانو د خدمتونو او همغږۍ عمومي مدیر.

نیټه: ۱۴۰۴/۱۱/۱۵ هـ ش

# د محصلینو د حقوق استازیتوب او ګډون تګلاره

## مقدمه

محصلین د لوړو زده کړو بنسټونو اساسي او محوري برخه جوړوي او د هغوی فعاله ګډون د تحصیلي نظام د کیفیت، شفافیت اغېزمنتیا تضمین کوي. د محصلینو د حقوقو خوندي کول، د هغوی منظم استازیتوب او د تحصیلي، اداري او ټولنیزو چارو په بهیر کې رغنده مشارکت نه یوازې د علمي او اخلاقي ودې سبب ګرځي، بلکې د پوهنتون د ښه حاکمیت او دوامدار پرمختګ لپاره هم بنسټیز ارزښت لري.

دا تګلاره داسې طرحه شوې، څو د محصلین اساسي حقوق تعریف، خوندي او تنظیم کړي، د محصلینو د استازیتوب بهیر روښانه او د ګډون چوکاټ رامنځته کړي. له دې لارې هڅه کېږي چې محصلین وکولای شي د دې تګلارې په چوکاټ کې خپل نظرونه، وړاندیزونه او ستونزې د اړوندو مراجعو تر غوږ ورسوي او د تحصیلي چاپېریال په ښه والي کې اغېزمن رول ولوبوي. یاده تګلاره په پنځو فصلونو او دولسو مادو کې ترتیب شوی ده. چې لومړی فصل عمومي احکام، دویم فصل د محصلینو حقوق، دریم فصل د محصلینو استازیتوب، څلورم فصل د محصلینو د منظم ګډون تر سرلیکونو لاندې ترتیب شوي دي.

## لومړی فصل عمومي احکام

### ۱ ماده: موخې

- د محصلینو قانوني او علمي حقوقو تضمین.
- په تصمیم نیونه کې د محصلینو اغېزمن استازیتوب.
- د محصلینو سالم مشارکت/ ګډون ته وده ورکول.
- د شفافیت، حساب ورکونې او متقابل درناوی ټینګښت.

### ۲ ماده: اصطلاحات.

- **محصل:** هغه شخص چې د لسانس یا د هغه څخه په لوړه سویه، د پوهې او مهارتونو د ترلاسه کولو له پاره، تاکلي برنامې د تحصیلي مقرراتو او لوایحو مطابق، تعقیبوي. یا هغه څوک چې په رسمي ډول په یو تحصیلي بنسټ کې د زده کړیال په صفت لوړي زده کړی ترسره کوي.
- **استازیتوب:** د محصلینو له خوا د ټاکل شوو استازو په وسیله د هغوی د غوښتنو او نظریاتو وړاندې کول.
- **مشارکت / ګډون :** علمي او کلتوري فعالیتونو کې د محصلینو فعاله ونډه.

## دوهم فصل: د محصلینو حقوق

### ۳ماده: اساسي حقوق

محصلینو د لاندې حقوقو څښتنان دي:

۱. په تحصیلي برنامو کې د نظري او عملي زده کړو ته لاسرسی حق.

۲. د زده کړې د وضعې د ښه والی لپاره د وړاندیز کولو حق.

۳. د لیلیې د مقرراتو او اصولو مطابق، محصل د لوړو زده کړو(لسانس) د دورې په بهیر کې د استوګنې حق.

۴. د عادلانه او بې طرفه ارزونې حق.

۵. معلوماتو ته د لاسرسی حق لکه نصاب، مهالویش او د ارزونې پایلې.

۶. د سپکاوي، تبعیض او ځورونې څخه د خوندیتوب حق.

۷. د شکایت کولو حق.

۸. تحصیلي اسنادو ته د لاسرسی حق.

۹. د آزموینې په بهیر کې د شفافیت او عدالت حق.

۱۰. د تحصیلي دورې په بهیر د تحصیلي چارو په برخه کې د محصلانو د استازیتوب حق.

۱۱. د کتابتون، لابراتوارونو او علمي سرچینو ته د لاسرسي حق.

۱۲. په علمي، فرهنګي او ورزشي فعالیتونو کې د ګډون حق.

۱۳. په ټاکل شوو کمیټو کې له اصولو سره سم د ګډون حق.

## درېیم فصل: د محصلینو استازیتوب

### ۴ماده: د استازو ټاکنه

- استازی به په هر ټولګي کې د ټولګیوالو د رایو په اکثریت ټاکل کېږي. کاندید باید ممتاز محصل، د ښو اخلاقو او اسلامي سیرت خاوند وي، د اړوندې څانګې استاذانو موافقه ولري، او همدارنګه د تحصیلي بنسټ د مقرراتو تابع وي.
- د څانګې او پوهنځی په کچه به استازی محصل د اړونده پوهنځی لخوا د محصلینو د همغږۍ عمومي کمېټې ته معرفي کېږي.
- د استازو د دندې موده یو تحصیلي کال ده.

### ۵ ماده: د استازو مسؤلیتونه

- د محصلینو ستونزې او غوښتنې راټولول او د محصلانو د همغږۍ کمېټې مسؤل ته بې رسول.
- د محصلینو د همغږۍ د کمېټې په غونډو کې فعاله ونډه اخیستنه.
- د غونډو راپور ورکول محصلینو ته.

### ۶ماده: د استازو حقوق

- د ټاکل شویو کمېټو په غونډو کې د نظر څرګندولو حق.
- اړوندو معلوماتو ته لاسرسی حق.
- د محصلینو د اړتیاوو د بیانولو حق.
- د محصلینو د حقوقو څخه د دفاع کولو حق.

**څلورم فصل: د محصلینو ګډون**

**۷ ماده: د مشارکت/ ګډون عمومي چوکات**

د محصلینو ګډون باید د نافذه امارتي قوانینو، د لوړو زده کړو وزارت د مقرراتو او د پوهنتون د داخلي اصولو سره سم ترسره شي. هر ډول مشارکت باید د اسلامي نظام له ارزښتونو، امنیتي ملاحظاتو او اداري انضباط سره په ټکر کې نه وي.

**۸ ماده: د مشارکت ډولونه**

د محصلینو منظم مشارکت په لاندې برخو کې تنظیمېږي.

۱. علمي او څېړنیزې برنامې.

۲. کلتوري، ټولنیزې او روزنیزې چارې.

۳. مشورتي غونډې او د نظر شریکول.

۴. د تحصیلي بنسټ له لوري منظور شوې رضاکارانه چارې.

**۹ماده: مشارکت اصول**

- د قوانینو او مقرراتو بشپړ رعایت.
- د نظم، اخلاق او اسلامي ارزښتونو مراعات.
- سیاسي، تنظیمي او غیر مجاز فعالیتونه منع دي.
- ګډون باید د رسمي اجازې او همغږۍ له لارې ترسره شي.

**پنجم فصل تطبیق او تعدیل**

۱۰ ماده: تطبیق

د دې تګلارې د تطبیق مسؤلیت د علمي او محصلانو چارو معاونیت پر غاره لري.

**۱۱ ماده: تعدیل**

دا تګلاره د اړتیا پر مهال د علمي او محصلانو چارو معاونیت لخوا تعدیل کیدای شي.

**۱۲ ماده: نافذیدل**

دا تګلاره د لوګر پوهنتون د علمي شورا په (۶) ګڼه پریکړه او ۱۴۴۷/۰۷/۲۱ هـ‌ق نېټه کې ثبت او تائید ده.

**ترتیب کوونکي: احسان الله " امیري"**

**محصلانو د خدمتونو د همغږۍ عمومی مدیر**

**تائید کوونکي: پوهندوی مولوي میرویس ستانکزی**

**علمی او محصلانو چارو مرستیال**